**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه احادیث چې په یوه بیعه کې دوې بیعې او یوه تړون کې دوه تړونونه منعه کوي.

**Jaber Thawabta ته**

**(ژباړه)**

پوښتنه:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د سوداګریزو معاملو په اړه یوه پوښتنه:

موږ غواړو د یو اندازه مبلغ پر وړاندې یوه ځمکه په اجاره ونیسو، ترڅو له هغې څخه تیرې راوباسو او که چېرې ځمکه د تیږو لپاره نه وه مساعده، نو موږ دا بیعه د سلنې پر بنسټ یو نسبت ته اړوو. ایا دا ډول معامله روا ده که ناروا، چې په یوه تړون کې دوه تړونونه راشي؟

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

زما وروره، دا نه ده روا چې په یو تړون کې بل مشروط تړون وشي. دلته تاسې وایئ چې لومړی تړون د اجارې یو مشروط تړون دی. که تېره ناسمه وه، بیا دا تړون په داسې یو بیعه اوړي چې د سلنې پر نسبت ولاړه وي، البته ستاسې په پوښتنه کې دا برخه ګونګه ده. تاسو نه ده روښانه کړې چې په پوښتنه کې «د سلنې پر نسبت» کلیمې څخه ستاسو موخه څه ده، خو ممکن ستاسو موخه دا وي چې دا په بل تړون اوړي. یعنې د اجارې لومړی تړون نه دی، خو بیعه له اجارې پرته په بل تړون اوړي.

ستاسو له خبرې څخه زما د اخذ دا دی، چې د رسول الله صلی علیه وسلم هغه احادیث دلته د پلي کېدو وړ دي، چې په یوه بیعه کې دوې بیعې او په یوه تړون کې له دوه تړونونه منعه کوي:

ترمذي په خپل سنن کې له ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت کوي:

**«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ»**

***ژباړه:*** *رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه بیعه کې دوې بیعې منعه کړې دي.*

دا حدیث ابو عیسی صحیح حسن بللی دی.

امام احمد په خپل مسند کې له عبدالرحمن بن عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما څخه چې هغه يې هم له خپل پلار څخه روايت کوي، وايي:

**«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ صَفْقَتَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ»**

***ژباړه:*** *رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه تړون کې دوه تړونونه منعه کړي دي.*

د اسلامي شخصيې د دويم ټوک د «په پور او قسطونو سره د بيعې» په څپرکي کې راغلي:

«... په پايله کې که چېرې د تړون يو اړخ بل ته ووايي، چې ما پر تا خپل کور په زر روپۍ خرڅ کړ، په دې شرط چې ته به خپل کور پر ما په زر روپۍ پلورې او دی ورته ووايي، چې زما قبوله ده. په دغه ځای کې د بيعې په يوه تړون کې دوې بيعې رامنځته شوې چې دا روا نه دي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم په يوه بيعه کې دوې بيعې منعه کړي دي او په يوه تړون کې يې دوه تړونونه منعه کړي دي ...»

له همدې امله دا تړون ناروا دی او لکه څنګه چې ما وويل دا ځواب ما د خپل اخذ پر اساس درکړ، د «نسبت/ فيصدي» لغت ما د نوي تړون په مانا درک کړ، نه د کرايې د تړون په مانا. يو داسې تړون چې تيرې د سلنې پر بنسټ خرڅوي. په بله وينا، د کرايې تړون په محدودې ورکړې سره د بيعې په تړون اوړي، چې پايله يې د سلنې پر بنسټ د تيرو ايستل دي. په هر حال که چېرې بيا هم ستاسې له موخې سره سم سوال ته ځواب نه وي ويل شوی، نو مهرباني وکړئ، خپل سوال په کره کليمو بيا راوليږئ، الله سبحانه تعالی دې مل شه.

**ستاسې ورور،**

**عطا بن خليل ابوالرشته**

**۲۶ربيع الاول ۱۴۴۰هـ**

**۴/۱۲/۲۰۱۸ ميلادي**

**ژباړن: سلطان وليد**